# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ ۳۱مه | د ۲۰۱۹ د جولای ۲۲مه | درېیم کال| ۴۰۸مه ګڼه


# د امریکا او طالبانو مذاکرات؛

## ښايي طالبان د محدود شمېر امریکايي ځواکونو حضور ومني



۳

### پاکستاني چارواکي امریکا ته په افغان سوله کې څه کولی شي؟

۲ مخ

### د ټرمپ او عمران خان لیدنه؛ د اړیکو نوی باب!

۲ مخ

### له خپلو وړتیاوو ګټه واخلئ او را ویې سپړئ!

۵ مخ

## سناتوران: په هېواد کې روان ترینګلی امنیتي وضعیت د جدي اندېښنې وړ دی

د کابل، کندهار او بادغیس ولایتونو له خونړیو امنیتي پېښو وروسته، د ملي شورا غړي د هېواد امنیتي وضعیت د جدي اندېښنې وړ بولي.

د ملي شورا غړي وايي، په هېواد کې روان امنیتي وضعیت د جدي اندېښنې وړ دی، نو له همدې کبله افغانستان په یو بحراني حالت کې قرار لري. دوی وايي، هغه خبره ناسمه ده چې افغانستان د بحران پر لور روان دی، بلکې همدا اوس په بحران کې دی.

سناتوران دغه راز وايي، د جنګ د ناسم مدیریت او ناسمې رهبرۍ له امله هره ورځ لسګونه بېګناه افغانان او امنیتي ځواکونه وژل کېږي، خو مسوولین یې پر وړاندې چوپ دي.


د دوی په خبره، اوسمهال په افغانستان کې د خلکو وژل یوه عادي مسئله یادېږي او حکومتي مشران په خپلو ټاکنیزو کمپاینونو بوخت دي.

دوی په غزني کې په مرموزه توګه د یوه جنرال او په بادغیس ولایت کې د ۳۴ کوماندوېي ځواکونو په وژل کېدو اندېښنه ښودلې او د یادو پېښو د جدي څېړلو غوښتنه یې کړې ده.

د ملي شورا غړي د افغانستان امنیتي وضعیت په اړه داسې مهال اندېښنه څرګندوي، چې په دې وروستیو کې تر بل هر وخت امنیتي پېښې زیاتې شوې، چې وروستۍ هغه یې په کابل او کندهار کې شوې او ډېرو کسانو ته یې مرګ ژوبله اړولې ده.

نړیوال بانک:

## د افغانستان اقتصادي وده له جدي ننګونو سره مخ ده




۳ مخ

## هېواد

۴ مخ

### تایوان

دغه هېواد په ملګرو ملتونو کې د خپل غړیتوب له پیله د ویټو حق درلود، خو کله چې په ۱۹۷۱ ز کال کې د ملګرو ملتونو ټولنې د چین ولسي جمهوریت په رسمیت وپېژانده، تایوان په دغه نړیواله ټولنه کې خپل غړیتوب له لاسه ورکړ.



## د کانونو او پټرولیم وزارت: د پنجشیر د اوسپنې کان د سروې کارونه بشپړ شوي دي




د کانونو او پټرولیم وزارت وايي، د پنجشیر د اوسپنې کان د سروې کارونه یې بشپړ کړي دي.

د دغه وزارت ویاند عبدالقدیر مطفي پرون ازادي راډیو ته وویل، دوی کابینې ته پیشنهاد کړی و چې دغه پروژه داوطلبۍ ته وړاندې او پر یاد کان د یوې لویې پروژې په حیث پانګه اچونه وکړي.

نوموړي وویل: «د دغې پروژې په داوطلبۍ سره موږ کولای شو ډېره پانګه اچونه را جلب کړو. ۳۸ د اوسپنې ویلې کولو فابریکې غواړي په دې برخه کې پانګه اچونه وکړي».

د نوموړي په خبره، پر کورنیو فابریکو سربېره، بهرني پانګه اچوونکي هم غواړي چې په یاد کان کې پانګه اچونه وکړي.

مطفي زیاتوي، بنجشیر په امنیتي لحاظ خوندي ولایت دی، څکه خو کورني او بهرني پانګه اچوونکي هلته د پانګې اچونې لپاره زړه ښه کوي.

## عبدالرزاق وحیدی وزیر پیشین مخابرات و تکنالوژی معلوماتی از محکمه استیناف برائت گرفت



عبدالرزاق وحیدی، وزیر پیشین مخابرات و تکنالوژی معلوماتی در دومین روز محکمه استیناف خواهی‌اش که دیروز (یک‌شنبه، ۳۰سرطان) برگزار شد، از محکمه مرکز عدلی و قضایی مبارزه با جرایم سنگین فساد اداری، برائت گرفت.

این در حالی است که آقای وحیدی در ماه حمل، در یک محکمه غیابی مرکز عدلی و قضایی مبارزه با جرایم سنگین فساد اداری، به دلیل اتهام‌های سوء استفاده از صلاحیت‌هایش در دوران مأموریت‌ش در وزارت مالیه، مجرم شناخته شده بود. او از آن زمان تاکنون، در زندان به سر می‌برد.

آقای وحیدی، پیش از آن‌که مسؤلیت وزارت مخابرات را به عهده بگیرد، معین وزارت مالیه بود.


روز نخست محکمه استیناف وحیدی، دو روز پیش (شنبه، ۲۹سرطان) برگزار شد، اما تصمیم این محکمه برای دیروز گذاشته شد.

آقای وحیدی که پیش از این نیز از بهر اتهام‌های وارد شده بر او در هنگام مأموریت‌ش در وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، به محکمه کشانیده شده بود.

عبدالرزاق وحیدی، به حیف و میل میلیون‌ها افغانی در هنگام عهده‌داری سمت وزارت مخابرات، متهم بود و رئیس جمهور غنی او را در پیوند با همین اتهام‌ها، از وزارت مخابرات برکنار کرد.

اما در ماه جدی پارسال، وی در پیوند با این قضیه، از محکمه ویژهٔ وزیران، برائت گرفت.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019



Easy English Learning

+93 (0) 789 98 9696
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

## پاکستاني چارواکي امریکا ته په افغان سوله کې څه کولی شي؟

د پاکستان لومړی وزیر عمران خان به نن په سپینه ماڼۍ کې د امریکا له ولسمشر ډونالډ ټرمپ سره وګوري. د دواړو اړخونو د خبرو اساسي موضوع افغانستان او افغان سوله ګڼل شوې چې ویل کېږي پاکستاني چارواکي ورغلي، څو د امریکایي اړخ هدایات واوري. په دغه سفر کې د پاکستان د پوځ لوی درستیز او د پوځي استخباراتو د ادارې مشر هم شته چې په دې ډول د پاکستان ملکي، نظامي او استخباراتي چارواکي پر یوه وخت امریکا ته ورځي او هلته به امریکایي چارواکو ته ووایي چې دوی په افغان سوله کې څه کولی شي او امریکا ترې څه تمه لري.

که څه هم امریکایي لوری په افغان سوله د پاکستان له رول څخه راضي ښکاري، خو بیا هم پر پاکستان فشار راوړي. پاکستان ته شنه ځراغونه ورکړل شوي، خو نه عملي فشارونه کم شوي او نه هم له پاکستان سره هغسې مرسته شوې چې دوی یې تمه کوي. له شدیدې اقتصادي ستونزې سره مخ پاکستان چې تر بل هر وخت امریکا ترې ناراضه ده او دوی غواړي چې راضي یې کړي، هڅه کوي له امریکا سره د همکارۍ له لارې خپل اقتصادي حالت ښه کړي.

د پاکستان ملکي او نظامي چارواکي ټول پر یوه وخت په داسې حال کې امریکا ته ورځي چې د طالبانو او امریکایي لوري ترمنځ خبرې روانې دي او په دغو خبرو کې د پرمختګونو رپوټونه هم ورکړل شوي دي. د سولې په روانو خبرو کې طالبانو د امریکا د توقع خلاف د امریکایي غوښتنو په منلو کې مقاومت وکړ او تر پایه حاضر نه شول چې د امریکا نظامي حضور ومني. که څه هم ټرمپ د نظامي حضور پر ځای د استخباراتي حضور خبره کړې، خو دا چې طالبان له هر ډول نظامي او استخباراتي حضور سره مخالف دي، همدلته ده چې د پاکستان رول ته اړتیا پیدا کېږي. امریکا له پاکستان څخه همدا غواړي چې پر طالبانو د امریکا نظامي او یا لږ تر لږه استخباراتي حضور ومني. ښایي دغه حضور ته پوښونه پیدا شي او پټ شي، خو هڅه روانه ده چې دا حضور وي. له همدې امله امریکا پر پاکستان فشار راوړي او پاکستاني چارواکي هم امریکا ته ورغلي چې دا خدمت ورته وکړي او هدایات واخلي.

خو ایا پاکستان طالبان هرې معاملې ته حاضرولی شي؟

د پاکستان او طالبانو د اړیکو په اړه تل مبالغه شوې. په پاکستان کې د طالبانو مرکزونه، روزنه، استوګنه او اړیکې ښکاره دي، خو دا چې طالبان دي یو مخ د پاکستان د لاس آله وګڼل شي، دا بیا افراط او تېروتنه ده. په دې وروستیو کلونو کې چې د سیمې سترو هېوادونو د امریکا پر نیت شک پیدا کړ، طالبانو هم له همدې موقع استفاده وکړه او له سیمې سره یې اړیکې پراخې کړې، نو اوس پاکستان پر طالبانو هغه نفوذ هم نه لري چې څو کاله وړاندې یې لاره. پاکستان به پر طالبانو فشار راوړي، طالب چارواکي به بندي کړي، کورنۍ به یې وځوروي، ځینې مرکزونه به یې ورته وتړي او آن ځینې طالبان به یا خپله یا پر بل چا ووژني، خو داسې نه ښکاري چې دا کارونه به د طالبانو پر اساسي دریځ اغېز ولري. لومړی خو به دا کار پاکستان ته هم زیانونه ولري او له بله اړخه به طالبان له خپلو نورو سیمه ییزو متحدینو مرسته وغواړي. اوس چې پاکستاني چارواکي امریکا ته ورځي، نو پر طالبانو د امریکایي غوښتنو د منلو ټېر به ووهي، خو ښکاري چې امریکا به پرې تر هغو فشار کم نه کړي او مرستې به ورسره ونه کړي، چې دوی پر طالبانو په عملي ډول امریکایي غوښتنې نه وي منلې.

# د ټرمپ او عمران خان لیدنه؛ د اړیکو نوی باب!



لیکنه: جمیل وقار

له اوږدو ناندریو وروسته د امریکا او پاکستان اړیکې ظاهراً مخ په ښه کېدو دي. لومړی وزیر عمران خان په روانه جولای میاشت کې واشنګټن ته په دری ورځني سفر تللی دی. پاکستان د جون میاشتې په وروستیو کې اعلان وکړ، چې عمران خان د ولسمشر ټرمپ په رسمي بلنه واشنګټن ته ځي. که څه هم د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د دې سفر په اړه بې خبرۍ وښوده، خو وروسته سپینې ماڼۍ وویل چې عمران خان دې هېواد ته په رسمي سفر ور روان دی او له امریکایي اړخ سره به په دوو اړخیزو اړیکو، د جنوبي اسیا په مسایلو او په ځانګړې توګه د افغان سولې په اړه خبرې وکړي.

په دې لیکنه کې د امریکا – پاکستان د اړیکو په نوي باب، د خبرو په عمده احتمالي مواردو، له دې فرصت نه د پاکستان په توقعاتو او د امریکا او پاکستان د تازه مناسباتو په لړ کې، پر افغان چارو د دې سفر په اغېزو غږېږو.

### د اړیکو نوی باب

له ۲۰۱۳ ز کال وروسته عمران خان لومړنی پاکستانی لومړی وزیر دی، چې واشنګټن ته سفر کوي. په ایبټ اباد کې د القاعده شبکې د مشر اسامه بن الادین تر وژل کېدو وروسته، د امریکا او پاکستان اړیکې مخ په خوړ شوې، خو لومړي وزیر نواز شریف خپله ټوله هڅه وکړه چې د ۲۰۱۳ ز کال په سفر کې دا بې اعتمادۍ له منځه یوسي او امریکا ته قناعت ورکړي، چې د ترهګرۍ او سیمه ییزې همکارۍ په برخه کې د امریکا ترځنګ ولاړ دی. له ۲۰۱۴ ز کال وروسته چې د امریکا او هند اړیکې مخ په ګرمېدو شوې او په سیمه کې د چین رول په ډېرېدو شو، د امریکا او پاکستان پر اړیکو یې هم منفي سیوری وکړ. پاکستان د ترهګرۍ پر ضد جګړې، له چین سره د ستراتیژیکو اړیکو په بیا کتنه او ځینو نورو سیمه ییزو مسایلو کې هغه توقعات چې امریکا ترې درلودل، پوره نه کړای شول. ځکه مسله تر دې ورسېده چې متحده ایالتونو ټولې هغه مرستې چې د ترهګرۍ د ځپلو لپاره یې دې هېواد ته ورکولې، پرې بندې او د نړیوالو مالي بنسټونو له لارې یې فشارونه پرې زیات کړل.

اوس چې د افغان سولې مسئله تر ډېره بریده مخ ته تللې او په دې برخه کې له کلونو راهیسې د امریکا – پاکستان چنې روانې دي، د دواړو هېوادونو اړیکې هم ورسره مخ په عادي کېدو دي. په تېرو څو میاشتو کې د سعودي، اماراتو، قطر او نړیوال مالي صندوق له لوري د میلیاردونو ډالرو مرسته، له چین سره د روابطو په برخه کې د امریکا له لوري د ځینو امتیازاتو ورکړه او یا حداقل د چین – پاکستان په ستراتیژیکو اړیکو نه فشار، په پاکستان کې دننه د امریکا، هند او افغانستان ضد افراطي بنسټونو ځپل، د امریکا له لوري د بلوڅ بېلتون غوښتونکو په تور لېست کې داخلول، د پښتون ژغورنې غورځنګ په ځپلو د امریکا او نړیوالې ټولنې نه غبرګون او بالاخره د دې ټولو په بدل کې په افغان سوله کې د پاکستان هر اړخیزه مرسته هغه موارد دي، چې د دواړو هېوادونو د اړیکو نوی باب یې پر اساس ولاړ دی.

### د خبرو عمده احتمالي موارد

پاکستان په دې هڅه کې دی چې واشنګټن ته د عمران خان له سفر څخه په مختلفو برخو کې ښه استفاده وکړي. دا هېواد چې په اوس وخت کې له سختو مالي ستونزو سره مخ دی، په نړیواله کچه د تروریزم په سر تر فشارونو لاندې دی، له چین سره د اړیکو له امله امریکا ترې ناراضه ده او په کور دننه له سختو سیاسي بې نظمیو او ستونزو کړېږي؛ نو په داسې حال کې د امریکا په څېر د نړیوال ځواک ښو روابطو ته تر بل هر وخت محتاج دی.

افغان سوله له هغو عمده موضوعاتو ده، چې د امتیاز په پایله کې عمران خان د دې چانس پیدا کړ، څو واشنګټن ته ولاړ شي او هلته له امریکایي اړخ سره پر دوو اړخیزو اړیکو خبرې وکړي. ولسمشر ټرمپ په ځلونو پر پاکستان تور لګولی، چې د امریکا میلیاردونه ډالره مرسته یې تش په تش تر لاسه کړې او په بدل کې یې له دروغو پرته هیڅ نه دي ورکړي. ټرمپ شاوخوا یو کال وړاندې له عمران خان څخه په یوه لیک کې غوښتنه وکړه، چې په افغان سوله کې مرسته وکړي. پاکستاني رسنیو په هماغه مهال دا خبره ښکته پورته کوله، چې د افغان مسئلې د پرمختګ په صورت کې به لومړی وزیر عمران خان د دې چانس پیدا کړي، څو د واشنګټن دوره وکړي. اوس چې د افغان سولې په مسئله کې د پام وړ پرمختګ راغلی، عمران خان به په دې لټه کې وي، چې په سر یې له امریکایي اړخ څخه د پام وړ امتیازات هم تر لاسه کړي.

د چین – پاکستان مخ پر وده اړیکې کېدای شي د بحث بله عمده موضوع وي، چې په اړه یې متحده ایالتونو په ځلونو پاکستاني لوري ته خپله اندېښنه وړاندې کړې ده. چین همدا اوس د بلوچستان په ګوادر کې د چین پاکستان په اقتصادي کوریډور لسګونه میلیارده ډالره لګوي او دې پروژې ته امریکا د اقتصادي زولنو په سترګه ګوري. امریکا باوري ده چې د چین یو سړک یو کمربند پروژه خپلې موخې تعقیبوي. د سیاسي چارو کارپوهان پر دې باور دي، چې د عمران خان او ټرمپ د بحث مهمه موضوع ممکن په پاکستان کې د چین مخ په پراخېدونکي نفوذ په اړه هم وي، چې امریکا یې له کلونو راهیسې په اړه اندېښمنه ده.

د دې ترځنګ، امریکا له کلونو راهیسې له پاکستان څخه د لشکر طیبه او جیش محمد په څېر د افراطي ډلو په فعالیتونو د بندیزونو غوښتنه کوي. دا ډلې چې د ملګرو ملتونو په تور لېست کې هم شاملې دي، په هند او افغانستان کې په ډېرو ترهګریزو بریدونو تورنې دي. دا ډلې که څه هم په مستقیمه توګه امریکا ته ګواښ نه دي او تر ډېره پورې په سیمه کې د هند د ګټو پر ضد رامنځ ته شوې، خو هند له کلونو راهیسې هڅه کوي، چې له امریکایي کارډ څخه په استفادې دا ډلې وځپي. پاکستان ظاهراً د دې ډلو د ځپلو په برخه کې یو لړ اقدامات هم کړي، خو د ملګرو ملتونو په تور لېست کې له شاملېدو سره سره، د دې ډلو مشران مسعود اظهر او حافظ سعید په دې هېواد کې ازاد فعالیت لري، چندې ورته ټولېږي او دولتي ملاتړ له ځان سره لري. امریکا ته د لومړي وزیر عمران خان په سفر کې به د بحث بله موضوع له دې ډلو په دولتي کچه د پاکستان ملاتړ وي، چې ممکن امریکا خپلې وروستۍ سرې کرښې هم ورته وباسي.

پر ایران د امریکا بندیزونه، د پاکستان خراب اقتصادي وضعیت، د هند – امریکا پر اړیکو د پاکستان ملاحظه او ځینې نور موضوعات هم ممکن د بحث په حاشیه کې مطرح شي، خو په ټوله کې بیا هم د یادونې وړ ده، چې اصلي موضوع افغان سوله ده او دا سفر هم د یادې مسئلې په سر پاکستان ته په امتیاز کې ورکړل شوی دی.

### د پاکستان توقعات

پاکستان چې نن سبا په سیاسي او اقتصادي لحاظ تر بل هر وخت په بد حالت کې دی، د امریکا په څېر د ځواکمنو هېوادونو هر اړخیزې مرستې او باور ته سخته اړتیا لري. په تېرو څو کلونو کې د امریکا د فشارونو او بندیزونو له امله د دې هېواد اقتصاد مخ په رکود روان دی او له سیاسي پلوه یې اعتبار سخت زیانمن شوی دی. پاکستان له ۲۰۱۳ ز کال را پدېخوا په دې هڅه کې دی، چې د امریکا باور تر لاسه کړي، خو په افغانستان کې د پاکستان په نیابت روانې جګړې، له چین سره مخ په وده اړیکو، د هند او امریکا ستراتیژیکې ملګرتیا او په سیمه کې د پاکستان له ملاتړ څخه برخمنو وسله والو افراطي ډلو شتون د باور یاده فضا ډېره زیانمنه کړې ده.

پاکستان د عمران خان د جولای سفر ته د ډېر لوی فرصت په سترګه ګوري. تر هر څه لومړی د دې هېواد هڅه دا ده چې د امریکا په څېر له مهم هېواد سره یې اړیکې بېرته عادي حالت ته را وګرځي. دا هېواد د هغو دوو اړخیزو اړیکو د بېرته را ژوندي کولو هڅه کوي، چې په ترڅ کې یې کلونه کلونه میلیاردونه ډالره مرسته ور روانه وه او په مټ یې د خپلې کلنۍ نظامي بودجې ۱۹ سلنه برخه پوره کوله.

امریکا په ځلونو ویلي چې له پاکستان سره یې اړیکې او مرستې تر افغان سولې مشروطې دي. اوس چې په افغان سوله کې یو څه پرمختګ شوی او په دې برخه کې امریکا د پاکستان له رول څخه څه ناڅه راضي ښکاري، د دواړو هېوادونو په دوو اړخیزو اړیکو به هم مثبت اغېز ولري. پاکستان تر هر څه لومړی تمه لري، چې امریکا ورسره د اقتصادي ستونزو په حل کې د پام وړ مرسته وکړي. هغه مالي پکیجونه چې په افغانستان کې د امریکا د نوي ماموریت له پیل سره سم پاکستان ته په پام کې نیولی شوي وو، بېرته پیل او د سولې امتیاز په نوم په ځینو نورو برخو کې هم لاسنیوی وکړي.

دا هېواد له کلونو راهیسې د بلوڅانو او پښتنو له پاڅونونو سره مخ دی. په وروستیو کلونو کې چې دا خوځښتونه مخ په زیاتېدو دي، پاکستان د پردې تر شا امریکا، هند او افغانستان ملامت ګڼي، چې ګواکې د دې بېلتون پالو ډلو ملاتړ کوي. څو ورځې وړاندې د امریکا متحده ایالتونو بلوڅ ازادي غوښتونکی پوځ په تور لېست کې شامل کړ او د پاکستان له لوري د پښتون ژغورنې غورځنګ په ځپلو هم چوپه خوله دي. عام ذهنیت دا دی چې دا د افغان سولې په سر د امریکا له لوري پاکستان ته د امتیازاتو یوه برخه ده، چې د واشنګټن په سفر کې به پاکستانی اړخ پرې لا زیات ټینګار وکړي.

د دې ترځنګ، پاکستان له څه مودې را پدېخوا په دې لټه کې دی، چې له هند سره یې اړیکې ښې شي. نن سبا چې پاکستان له اقتصادي انزوا سره مخ دی، له افغانستان او هند سره تجارتي او سیاسي راکړه ورکړه ورته حیاتي ارزښت لري. دې هېواد په کراتو له هند سره د خبرو او د مسایلو د سوله ییز حل غوښتنه کړې، خو د هندي اړخ له لوري یې مثبت ځواب نه دی تر لاسه کړی. امریکا چې په سیمه کې د هند ستراتیژیک شریک دی او د هند پر مسایلو تر ډېره تسلط لري، له پاکستان سره تر یوه بریده په دې برخه کې همکاري هم کولای شي.

### پر افغان چارو د دې لیدنې اغېز

دا معلومه خبره ده چې له کلونو راهیسې پاکستان د دې لپاره په افغانستان کې نیابتي جګړه روانه ساتلې، چې له مخې یې ځینې امتیازات ورکړل شي. اوس چې د دې جګړې د ختمولو په موخه امریکا د سولې لوری نیولی او عملاً له طالبانو سره پر خبرو بوخت دی، له پاکستان څخه د رښتینې همکارۍ تمه لري. په تېرو څو کلونو کې چې امریکا له بېلابېلو لارو پر پاکستان فشارونه زیات کړي، تر ډېره پورې یې لامل هم افغان سوله یادېږي.

د ولسمشر غني د حکومت پر مهال له پاکستان سره د دولت په دولت اړیکو ته یو څه چوکاټ برابر شو او تر ډېره بریده په دې مهال کې پاکستان هم دا درک کړه، چې د دوامدارې جګړې له لارې خپلو موخو ته نه شي رسېدلی. اوس چې پر دې هېواد نړیوال فشارونه زیات شوي او له اقتصادي پلوه هم نور د دې جګړې د غځولو توان نه لري، د افغانستان لپاره دا ښه فرصت دی، چې له پاکستان سره دولت په دولت خبرو ته کېني او پر ټولو هغو موضوعاتو خبرې وکړي چې پاکستان یې له باثباته افغانستان څخه وېره لري.

د ولسمشر ټرمپ او لومړي وزیر عمران خان خبرې به تر ډېره د افغانستان پر مسایلو ور ټولې وي، خو متاسفانه زموږ بهرنۍ ډیپلوماسي یا د شرایطو او یا هم د خرابې حکومتدارۍ له امله هغسې پیاوړې نه ده، چې د امریکا له کارډ څخه په استفادې خپلې غوښتنې په ښه شکل تطبیق کړای شي. په ټوله کې واشنګټن ته د لومړي وزیر عمران خان ته سفر د افغانستان د سولې په برخه کې د همکارۍ په بدل کې د امتیاز په توګه ورکړل شوی دی، چې ښکاره خبره ده د افغان سولې په برخه کې به یې اغېزې مثبتې وي.

# د امریکا او طالبانو مذاکرات؛

## ښايي طالبان د محدود شمېر امریکايي ځواکونو حضور ومني



ویل کېږي چې طالبانو له امریکا سره د محدود شمېر امریکايي سرتېرو پر حضور توافق کړی دی. سره له دې چې وسله وال طالبان د سولې لپاره په خپلو شرایطو کې د بهرنیو ځواکونو پر بشپړ وتلو ټینګار کوي، خو ځینې پاکستاني چارواکي او د چارو شنونکي پر دې باور دي، چې دغې ډلې له امریکایانو سره د محدود شمېر سرتېرو د حضور مسئله منلې ده. د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې مهم پړاو ته رسېدلې دي. دمګړی د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد له امریکايي چارواکو سره پر خبرو بوخت دی. تر خبرو وروسته به قطر ته ځي او له طالبانو سره به خبرو ته ادامه ورکوي.

له دې سره جوخت د پاکستاني پوځ یوه متقاعد جنرال چې د طالبانو له نږدې سرچینو یې معلومات اخیستي وايي، طالبانو له امریکایانو سره د محدود شمېر سرتېرو د حضور مسئله منلې ده. جنرال آصف یاسین ملک د پاکستان دې نیوز ورځپاڼې سره په یوه تازه مرکه کې ویلي، د طالبانو او امریکا ترمنځ د راتلونکي ۲۰۲۰ میلادي کال په لومړیو دوو میاشتو کې د سولې پر هوکړې سربېره، د افغان سیاسي اړخونو ترمنځ د قدرت وېش فورموله هم نهايي کېږي او طالبانو په افغانستان کې د محدود شمېر امریکايي سرتېرو له حضور سره هم توافق کړی. نوموړي ویلي: ((طالبانو په افغانستان کې د امریکايي ځواکونو له محدود حضور سره توافق کړی او د جنورۍ تر میاشتې به له مختلفو افغان سیاسي اړخونو ترمنځ د قدرت د وېش فورمول هم نهايي شي)).

پاکستاني جنرال داسې مهال دغه ښرګندونې کړې دي چې طالبانو ویلي، امریکا باید د سولې او بین‌الافغاني مذاکراتو لپاره د بهرنیو ځواکونو وتل تر ټولو مهم شرط وبولي. دوی ټینګار کوي چې بهرني ځواکونه دې له افغانستانه ووځي او تر هغه وروسته به دوی بین‌الافغاني مذاکراتو ته حاضرېږي.

تر دې وړاندې د مذاکراتو په بهیر کې داسې راپورونه خپاره شول، چې امریکایان او طالبان هوکړې ته رسېدلي دي، خو یوازې د بهرنیو ځواکونو د وتلو پر مهالوېش اختلاف موجود دی. امریکايي او نورو غربي رسنیو راپور ورکړ چې طالبان په شپږو میاشتو؛ خو امریکایان په ۱۸ میاشتو کې د ځواکونو پر وتلو ټینګار کوي. له دې سره هممهاله د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ وویل چې له افغانستانه ځواکونه وباسي او اوس یې هم په دغه هېواد کې د ځواکونو شمېر نیمايي ته راکم کړی دی.

وړمه ورځ بیا د امریکا وتلي سیاستوال او سناتور لینډسي ګراهام ویلي وو، چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو په بېړه وتل به دلته د یوه بحران سبب شي. ده د ټرمپ پر حکومت غږ کړی و چې له طالبانو سره دې په اتلسو میاشتو کې د بهرنیو ځواکونو د ایستلو خبره نه مني.

د امریکا پوځي سرچینو بیا ویلي چې لا هم په افغانستان کې د ترهګرۍ ضد مبارزې لپاره د بهرنیو ځواکونو حضور ته اړتیا ده. پخپله ډونالډ ټرمپ بیا پر دې باور دی چې له افغانستانه به خپل ځواکونه په بشپړه توګه وباسي، خو پر ځای به یې یوه قوي استخباراتي ډله پرېږدي، چې په سیمه کې ټول مسایل وڅاري. په دې منځ کې افغان حکومت بې دریځه دی. د ملي یووالي حکومت مشران په ټاکنیزو اړو دوړو بوخت دي او د افغانستان دې برخلیک ټاکونکې مسئلې ته یې خاص پاملرنه نه ده کړې.

د سولې عالي شورا بیا وايي چې د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې رواني دي او دواړه لوري هوکړې ته نږدې شوي دي. د دغې شورا مرستیال عطاالله لودین وايي، دواړه لوري توافق ته نږدې شوي؛ خو طالبان د دغه تړون د عملي کېدو لپاره د نړیوالو ضمانتونو غوښتنه کوي.

## خلیلزاد: زه د نور پرمختګ په هیله بیا یوه نوي ماموریت ته تیارېږم



خلیلزاد د اوومې غونډې په پای کې د مشورې او خبرو لپاره واشنګټن ته ولاړ.

په داسې حال کې چې ټاکل شوې د پاکستان لومړی وزیر عمران خان نن د متحده ایالتونو له ولسمشر ډونالډ ټرمپ سره په سپینه ماڼۍ کې وګوري او د خبرو اساسي مسئله به یې د افغانستان وضعیت وي، د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی د یوه نوي ماموریت د پیل خبره کوي.

زلمي خلیلزاد په یوه ټویټ کې لیکلي: «زه د نور پرمختګ په هیله، بیا یوه بل ماموریت ته تیارېږم».

نوموړي د خپلو دغو څرګندونو په اړه ډېر جزیات نه دي ورکړي او دايې نه ده په ډاګه کړې چې په دغه ماموریت کې به لومړی کوم هېواد ته سفر کوي، خو د ملي یووالي حکومت د اجرایه ریاست ویاند ازادي راډیو ته ویلي چې افغانستان ته د خلیلزاد د راتګ په اړه معلومات نه لري.

دا په داسې حال کې ده چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان سولې او پخلاینې په تړاو د امریکايي او طالب استازو ترمنځ اووه پړاوه مخامخ خبرې شوې دي. خو بل لور ته د خلیلزاد له دغو څرګندونو سره سم، د پاکستان لومړی وزیر عمران په واشنګټن کې دی او ټاکل شوې چې نن په سپینه ماڼۍ کې له ولسمشر ټرمپ سره پر ځینو مهمو مسایلو خبرې وکړي، چې د خبرو عمده موضوع به یې په افغانستان کې د سولې د روان بهیر په اړه بحث وي.

د افغانستان او پاکستان د سیاسي حالاتو د څارونکو له نظره، د عمران خان او ډونالډ ټرمپ خبرې به تر ډېره د دریبم هېواد، افغانستان پر امنیت او سوله متمرکزې وي؛ خو دا نه ده څرګنده چې په دې کتنو کې به خلیلزاد هم وي او که نه.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي خبریالانو ته تایید کړې چې د پاکستان د پوځ لوی درستیز او د هغه هېواد د پوځي استخباراتو د اداري مشر به هم سپینې ماڼۍ ته په دغه سفر کې له عمران خان سره ملګري وي.

دا لومړی ځل دی چې په دومره لوړه کچه جنرالان د پاکستان لومړی وزیر سپینې ماڼۍ ته بدرګه کوي.

په واشنګټن کې د جنوبي اسیا د سیاسي چارو یوه ماروین وینبام د پاکستان ډان ورځپاڼې ته ویلي، د عمران خان او ورسره مله پلاوي سفر دا څرګندوي چې د پاکستان ملکي او پوځي اداري تر ډېرې مودې وروسته، بالاخره پر یوه لار روانې شوې دي.

وینبام ویلي چې د افغانستان وضعیت او تروریزم د امریکا د حکومت دوه سترې اندېښنې دي او هېڅ ستره پرېکړه په پاکستان کې د پوځ له هوکړې پرته نه شي عملي کېدای.

## نړیوال بانک: د افغانستان اقتصادي وده له جدي ننګونو سره مخ ده




نړیوال بانک په ۲۰۱۸ ز کال کې د افغانستان پڅې اقتصادي ودې ته په اشارې ویلي، چې د دغه هېواد اقتصادي وده له جدي ننګونو سره مخ ده.

د افغانستان د اقتصادي وضعیت په اړه د دغه بانک تازه راپور ښیي، چې تېر کال افغانستان شاوخوا دوه سلنه اقتصادي وده درلوده، چې دا د جنوبي آسیا د هېوادونو په کچه تر ټولو ټیټه اقتصادي وده ده او په دغه هېواد کې د بېوزلۍ د کچې زیاتوالي ته په کتو بسنه نه کوي.

په افغانستان کې د نړیوال بانک رییس هنري کرالي ویلي، چې افغانستان په یوه وخت پر وچکالۍ سربېره، له ډېرېدونکې ناامنۍ، په ټاکنو پورې تړلي مبهم سیاسي وضعیت او د نړیوالې ټولنې په امنیتي مرستو کې د احتمالي کموالي له جدي ننګونو سره مخ دی او دغه د یاد هېواد د اقتصادي ودې پر وړاندې لوی خنډونه دي.

د دغه راپور په یوه برخه کې راغلي: «پڅه اقتصادي وده د دولت د پالیسیو د خرابېدو له امله نه، بلکې د منفي جټکو له امله رامنځته شوې. حقیقت دا دی چې دولت په دغو سختو شرایطو کې د ډېرو معیارونو له مخې د پالیسیو په اصلاحاتو کې منظم پرمختګ کړی دی».

نړیوال بانک په خپل راپور کې د افغانستان اقتصادي مدیریت پیاوړی بللی او ویلي یې دي، که وضعیت په همدې ډول دوام وکړي، په راتلونکو کلونو کې د افغانستان د اقتصادي ودې د کچې د لوړېدو اټکل کېږي. دغه بانک د وچکالۍ ختمېدل، د ټاکنو اړوند سیاسي ستونزو حل او پر وخت د پایلو اعلانول د افغانستان پر اقتصادي ودې پورې تړلي شاخصونه یاد کړي دي.

د نړیوال بانک رییس دغه راز ویلي: «دولت باید ډېر کار وکړي چې د سوداګرۍ چاپېریال ښه کړي، د ټاکنو پروسه پرته له خنډه پلې کړي او په را روانو سختو میاشتو کې د اداري فساد او کمو شویو مالي منابعو د خراب مدیریت مخنیوی وکړي».

کرالي زیاته کړې چې نړیواله ټولنه په امنیتي او پراختیایي برخو کې د خپلو مرستو د دوام له لارې د خصوصي سکټور او اقتصادي ودې د تقویې په برخه کې حیاتي رول لوبولی شي.

خو هغه ټینګار کړی چې نړیواله ټولنه باید دا یقیني کړي، چې مرستې یې د افغان دولت له پلانونو سره همغږې او تړلې دي.

## پامپیو: له ترکیې سره مو د اېس- ۴۰۰ دفاعي سیستم په تړاو خپلې جدي اندېښنې شریکې کړې دي



د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ویلي چې له خپل ترکي سیال مولود چاوش اوغلو سره یې په ټلیفوني خبرو کې له روسیې د اېس- ۴۰۰ توغندیو د دفاعي سیستم د پېرلو په تړاو، د خپل هېواد جدي اندېښنې شریکې کړې دي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په حواله، مایک پامپیو دا خبره له دې امله کړې چې ترکیې له روسیې سره د مزایلو د دفاعي سیستم د معاملې د عملي کولو لپاره ګامونه پورته کړي دي.

دې معاملې د ناټو د دواړو غړو ترمنځ اړیکې خرابې کړې او په دفاعي چارو کې یې د دواړو د میلیاردونو ډالرو معاملې له ګواښ سره مخ کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې ترکیې په دې وروستیو کې اعلان وکړ، چې له روسیې سره د شوې هوکړې له مخې، له دغه هېواد د اېس- ۴۰۰ توغندیو دفاعي سیستم لومړۍ جوپه د جولای په دوولسمه او دیارلسمه ترکیې ته ورسېده.

د ترکیې له دغه اعلان وروسته دا لومړی ځل دی چې د ترکیې او امریکا د حکومتونو تر ټولو لوړ رتبه چارواکي په ټلیفون کې خبرې کوي.

د امریکايي چارواکو دغه اندېښنې داسې مهال دي، چې متحده ایالتونو ترکیې ته بیا بیا خبرداری ورکړی و چې که له روسیې د توغندیو یاد دفاعي سیستم وپېري، پر دغه هېواد به بندیزونه ولګوي او له ترکیې سره د اېف- ۳۵ جنګي جېټ الوتکو له شوي تړونه به ووځي.

د امریکا او ناټو پوځي چارواکي وايي چې دا سیستم د ناټو له پوځي سیستمونو سره اړخ نه لګوي او د ناټو جنګي الوتکو ته ګواښ پېښوي.

په ورته وخت کې د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان هم څه موده وړاندې ترکیې ته د اېس- ۴۰۰ توغندیو د دفاعي سیستم د لومړۍ جوپې د رسېدو پر مهال وویل، چې له روسیې څخه د دغه سیستم تر لاسه کول یې د هېواد تر ټولو لویه تاریخي لاسته راوړنه ده.

نوموړي دغه راز ټینګار وکړ چې یاد سیستم به تر ۲۰۲۰ ز کال پورې نصب شي .

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه


## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ ليکوال: ابوبکر صديق

◎ ژباړن: اقامحمد قريشي

### دوهم څپرکی

### له سوله ييزو سرحدي سيمو د افراطيت تر بستره




د پښتنو تاريخ ليکنه کې ډېر څپرکي همداسې تش پاتې دي، له پېړيو راهيسې د بهرنيانو يرغلونو او خپل منځي کش مکشونو دا خلک له پرمختګ او ټولنيز تکامل څخه تر شا پرې ايښي. په پښتون پېژندنه کې د لوستو يوه اړينه برخه د هغوی پر خپلو منځونو کې د دښمنيو او مخالفتونو پيښې دي چې تاريخ يې په خپله غېږه کې را نقلوي. د شلمې پېړۍ د افغانستان تاريخ هره برخه د پښتنو د ځانګړتياوو او خصوصيتونو په اړه معلومات وړاندې کوي چې په يوه برخه کې يې د هغوی خپل منځي اساطير دي.

په تېرو پنځو پېړيو کې د پښتنو د هويت په پرمختيا کې د اسلام مبارک دين اړين رول لوبولی، د پښتنو د سياسي غورځنګونو، امپراتوريو او دولتونو له جوړښت سره يې بشپړ لاس ورکړی. د پښتنو په تاريخ کې د هغوی د مشهورو او نامتو څېرو او پېښو مطالعه د افغانستان او پاکستان د ستونزو په اړه پوره پوهاوی راکولای شي چې څنګه د پښتنو سيمې د اسلام تر نامه لاندې د افراطيت د غورځنګونو په بستر او ځالو بدلې شوې.

**د روښانتيا ښوونکی**

تر ۱۰۰۰ هـ لمريز کال پورې د پښتنو د سيمو اکثريت نفوس مسلمان شوي دي. د لومړي ځل لپاره د پښتنو يو بشپړ وطنپال غورځنګ ډېر وخت وروسته په شپاړسمه پېړۍ کې جوړ شو. د دې غورځنګ عقيده پر منځلاري صوفي ليدلوري راټوله وه. ياد غورځنګ د روښانتيا په نوم جوړ شو چې مشـري يې پير روښان کوله. د هغه اصلي نوم بايزيد خان يا بايزيد انصاري و. هغه په جلندهر کې چې اوسنی شمالي هندوستان دی، زېږېدلی و. کورنۍ يې د هغه په ماشومتوب کې د نومړي پلرني ټاټوبي وزيرستان ته راغلې وه چې بايزيد هم همدلته را لوی شو. د هند په نيمه وچه کې هغه داسې مهال وزېږېد چې پښتانه خورا له پښو لوېدلي وو.

پښتنو کې د لوديانو کورنۍ (۱۵۲۶-۱۴۵۱)، ماته وخوړه او واک يې مغلو ته پاتې شو. زهير الدين بابر (۱۵۳۰-۱۴۸۳) د مغلو د کورنۍ بنسټګر و، نومړی په اصل کې د (فرغانه تنګي) چګتی و چې د ازبکستان اړوند سيمه ده. هغه د ګوډ تيمور او چنګېز له اولادې څخه و، وروسته له هغه چې د سمرقند او د مرکزي اسيا د نورو سيمو په نيولو کې ناکام شو، ختيځ او سويل ته يې مخه کړه.

نومړي په ۱۵۰۴ز کال کابل او په ۱۵۲۲ز کال کندهار ونيوه، غوښتل يې په همدې ډول ځان هندوستان ته ورسوي. بابر د لوديانو خپل منځي شخړو ته پوکی وواهه، د پنجاب له والي دولت خان څخه يې په هند د بريد غوښتنه وکړه. هغه وروستی لودي واکمن ابراهيم خان په ۱۵۲۶ز کال له پاني پت بهر په لويه جګړه کې مات کړ.

پښتنو د مغلو واکمنۍ ته ګواښ وکړ. شېرشاه سوري چې يو پياوړی نظامي جنرال او مدير و، د بابر زوی نصير الدين محمد همايون چې د خپل پلار پر واکمنۍ ناست و مات کړ. د مغلو امپراتور وروسته پر ۱۵۴۰ز کال په ايران کې پناه واخيسته. شېر شاه د ۱۵۴۰ز کال په منځ کې مړ شو. له دې پېښې وروسته يې پر واکمنۍ ناست زوی اسلام شاه سوري هم په ۱۵۵۴ز کال مړ شو چې له دې سره د پښتنو د کورنۍ واکمنې پای ته ورسېده. د ايرانيانو په بشپړه همکارۍ همايون يو ځل بيا په ۱۵۵۵ز کال واکمن شو. که څه هم د دې کورنۍ د پاتې اولادونو ترمنځ د واک پر سر زړه بدی و، خو د همايون زوی جلالالدين محمد اکبر د مغلو د واکمنۍ د تر ټولو باثباتې او ارامې واکمنۍ مشـر و.

د مغلو د امپراتورۍ پر وړاندې د پښتنو د مقابلې څرکونه د پير روښان په مبارزه او د هغه په ليکنو کې له ورايه ښکارېدل. دا مهال د مغل کلمه د پښتنو په منځ کې د دښمن او دښمنۍ په مانا وه. دا ډول اند لومړی په فولکلور کې را څرګند شو، وروسته ژبې او بيا ليکنو ته هم وغزېد. د پښتنو د مبارزې پر وړاندې مغل واکمن اکبر يو نوی دين چې د الهي دين په نوم و، وړاندې کړی و. په دې دين کې د اسلام، هندوييزم، کاتوليک، جينېزم او زردشتپالنې ځينې عناصر يې سره يو ځای کړي وو. الهي دين د هغه ځانې ديني او مذهبي سېستم و. پير روښان په ښکاره بغاوت پيل کړ، وروسته بيا د هغه غورځنګ د پښتنو په ملي غورځنګ بدل شو. پير روښان له وزيرستان څخه نورو سيمو ته د تبليغ او لارښوونې لپاره سفرونه وکړل.

د پير روښان په مذهبي دور کې هغه په جمهوري لرليد چې له ځان سره يې د اسلامي شريعت د تصوف د منځلارې طريقې پالنې مبارزه وکړه. له ډېرې څېړنې او شننې وروسته چې خپله د پير روښان ليکنې هم پکې ولوستل شوې، سيف الرحمن محسود وايي غوښتل يې، پښتانه په ملي روحيې سره متحد کړي، د دين او سياست پر ګډه ملي ايډيالوژۍ سره راټول کړي.

پير روښان غوښتل، ټول پښتانه يوه باحيثيته او خپلواکه لاره وپالي چې په خپله يې ورته «طريقت» وايه. په دې لاره کې يو اساسي عنصر دا و چې پښتانه بايد تعليم وکړي او پر اصلي لاره چې طريقت دی پوه شي. د پير روښان پر مهال هڅه کېده قومي بېلتون او ليرې والی له منځه يوسي او په ټوله کې «اتحاد» وکړي. هغه له کندهاره تر ننګرهاره ټول پښتانه تر درېيو کلمو (وحدت، قرابت او وصلت) لاندې اتحاد ته راوبلل، «نومړي» غوښتل «پښتانه» په «سوله» او «خپلواکۍ» کې «ژوند» وکړي. **دوام لري...**

# تايوان

حشمت الله نوري



تايـوان د آسيا پـه ختيځـه برخـه کـې د ختيـځ چيـن، فيليپيـن او جنـوبي چيـن د سيندونو او د تايـوان تنگـي پـه مينـځ کـې د شـمالي عـرض البلدونـو د ۲۵ او ۲۲ درجـو او د ختيـځ طـول البلدونـو د ۱۲۰ او ۱۲۲ درجـو پـه مينـځ کـې موقعيـت لـري، چـې تولټـال يـې پراخوالـی ۱۳۸۳۹ ميـل مربـع تـه رسـېږي او لـه دې پلـوه د نـړۍ ۱۲۰م لـوی هېـواد دی.

د تايـوان شـمال تـه د ختيـځ چيـن سيند، جنـوب تـه يـې د جنـوبي چيـن سـيند، ختيـځ تـه يـې د فيليپيـن سـيند او ارام سـمندر او لوېديـځ تـه يـې د تايـوان تنگـی موقعيـت لـري.

دغـه هېـواد تـودو سـمندري بهيرونـو کلابنـد کـړی او ډېـر اورښـت لـري. پـه عمومـي توگـه د دغـه هېـواد هـوا لنـده ده، ژمـی يـې معتـدل او دوبـی يـې تـود وي. د تايـوان د اورښـت وخـت پـه اکټوبـر کـې پيـل او پـه مـارچ کـې پـای تـه رسـېږي. د دغه هېـواد د مياشـتني اورښـت انـدازه پـه منځنـۍ توگـه ۲۶۰۰ مـلي مـتره ثبـت شـوې ده.

د دغـه هېـواد پلازمېنـه د تايپـي ښـار دی، ۹۰ سـلنه وگـړي يـې پـه ښـارونو او پاتـې لـس سـلنه نـور يـې بيـا پـه کليـو او بانـډو کـې ژونـد کـوي. د دغـه هېـواد د قانـون لـه مخـې هـره کورنـۍ پـه ټـول عمـر کـې يـوازې د دوو ماشـومانو د درلـودو حـق لـري.

تايـوان د اداري وېش لـه پلـوه پـر ۱۴ برخـو، دريـو ښـارواليو او پنځـو ځانگـړو ښـاروالیو بانـدې وېشـل شـوی دی. تايچونـگ، تاينـان، تونـگ، کاسيونـک، کاوسي هولين او تولونـک د دغـه هېـواد مهـم ښـارونه دي.

تايـوان ډېـر گونديـز ولسـواک نظـام لـري، د تايـوان اسـاسي قانـون د ۱۹۴۷ ز کال د جنـوري پـه لومـړۍ نېټـه نافـذ شـوی او پـه ۱۹۹۲، ۱۹۹۴ او ۱۹۹۷ ز کلونـو کـې تعديـلات پکـې راغـلي دي. د دغـه هېـواد اوسـنۍ ولسـمشره تسـای اينـگ ون ده. د دغـه هېـواد ولسـمشر او د هغـه مرسـتيال د څلـورو کلونـو لپـاره د خلکـو پـه خوښـه ټـاکل کيـږي. د دغـه هېـواد لومـړی وزيـر د ولسـمشر لخـوا او د لومـړي وزير مرسـتيال او د کابينـې وزيـران د لومـړي وزيـر پـه وړانديز د ولسـمشر پـه منظـورۍ ټـاکل کيـږي. د تايـوان حکومتـي سيسـټم لـه پنځـو برخـو څخـه جـوړ شـوی دی: اجرايـه قـوه، مقننـه قـوه، قضايـه قـوه، پـه دولتـي دوايـرو کـې د کنټـرول او څارنـې قـوه او د دولتـي مامورينـو د کـره کولـو اوو ازمينـې قـوه.

د تايـوان مـلي شـورا يـوه جرگـه لـري چـې ۱۱۳ غـړي يـې د څلـورو کلونـو لپـاره ټـاکل کيـږي. پـه دغـه هېـواد کـې د رايـې ورکولـو سـن ۲۰ کالـه او رايـه ورکـول پـه کـې عمومـي دي.

د دغـه هېـواد حقوقـي نظـام پـر مـدني قانـون ولاړ دی. د دغـه هېـواد د قضايـه قـوې قاضيـان د ولسي جرگـې او د کنټـرول او څارنـې د قـوې پـه موافقـت د ولسـمشر لخـوا ټـاکل کيـږي.

کوميـن تانـگ نشنلېسـت ډلـه، د خلکـو لومړنـۍ گونـد او ولسـواک پرمختيـا غوښـتونکی گونـد د دغـه هېـواد مهـم او نفـوذ لرونکـي گوندونـه دي.

د تايـوان سياسـتوال د خپـل هېـواد خپلواکـي منـي او د چيـن لـه ولـسي جمهوريـت څخـه غـواړي چـې تايـوان د خپلـواک هېـواد پـه توگـه پـه رسـميت وپېژنـي، خـو چيـن غـواړي چـې دا ټاپـو لـه مـورني وطـن سره يـو ځـای کـړي.

دغـه هېـواد پـه ملگـرو ملتونـو کـې د خپـل غړيتـوب لـه پيلـه د ويتـو حـق درلـود، خـو کلـه چـې پـه ۱۹۷۱ ز کال کـې د ملگـرو ملتونـو ټولنـې د چيـن ولـسي جمهوريت پـه رسـميت و پېژانـد او چيـن د ملگـرو ملتونو او د هغـه د امنيـت د شـورا غـړی شـو، تايـوان پـه دغـه نړيوالـه ټولنـه کـې خپـل غړيتـوب لـه لاسـه ورکـړ.

تايـوان ډېـر پرمختللـی کپيټالېسـتي اقتصاد لـري، دغـه هېـواد خپلـې بهرنـۍ سـوداگرۍ او بهرنـۍ پانگـې اچونـې ته دولتي لارښـوونه گام پـه گام کمـوي. د تايـوان دولـت د ځينـو غټـو صنعتـي فابريکـو او بانکونـو د مالکيـت لـه املـه لا هـم د دغـه هېـواد پـه اقتصـادي سيسـټم کـې لږ ونـډه لـري، خـو هڅـه کوي چـې دا تشـبيثات ورو ورو زيـات خصوصي سـکټور تـه پـه واک کـې ورکـړي. د تايـوان ناخالـص کـورني توليـدات پـه تېـرو څلـورو لسـيزو کـې هـر کال پـه منځنـۍ توگـه اتـه سلنه وده کـړې ده.

پـه تايـوان کـې د انفلاسـيون او وزگارتيـا انـدازه ډېـره کمـه ده. پـه تايـوان کـې د بهرنيـو اسـعارو، سرو زرو او بانډونـو زېرمـه پـه نـړۍ کـې څلـورم ځـای لـري. چيـن، جاپـان او روسـيه پـه دې برخـه کـې لومـړی، دويـم او دريـيم ځـای لـري. پـه تايـوان کـې هغـه عنعنـوي صنعـت چـې ډېـر کارگـر غـواړي، ورو ورو پـر داسـې صنعـت بدلېـږي چـې غټـه پانگـه او عـصري ټکنالـوژي ورتـه پـکار ده. دغـه هېـواد پـه چيـن، تايلنـډ، اندونيزيا، فيليپيـن، ماليزيـا او ويتنـام کـې غټـې پانگـې پـر کار اچولـې دي.

پـه دغـه هېـواد کـې د کارگرانـو لـوی مارکېـټ ډېـر بهرنيـان قانـوني يـا غيـر قانـوني دغـه هېـواد تـه د تـگ لپـاره هڅولي دي. تايـوان د گټـورو مـالي اقداماتـو او ښـه کنټـرول پـه وجـه، پيـاوړی اقتصـاد لـري. اوسـپنه، فـولاد، نسـاجي، برېښـنايي شيان، د مخابراتـو او معلوماتـي ټکنالـوژۍ وسـايل، کيميـاوي مـواد، جامـې، د خوراکـي مـوادو پروسـس مخصوصـاً بـوره، سيمنټ، بېړۍ، د خامـو تېلـو چاڼ، نقليه وسـايط، پلاسـتيک، اسـتهلاکي کـورني توليـدات، کاغـذ، بېلابېـل ماشـينونه، پـرزې او فابريکـې د دغـه هېـواد مهـم صنعتـي فکټورونـه دي.

د تايـوان ۲۵ سـلنه ځمکـه د کرنـې وړ ده، پنځـه سـلنه يـې څرځايونـو نيولـې، ۵۵ سـلنه يـې ځنگلونـو او پاتـې نـوره يـې بيديـاوو، غرونـو، سـيندونو، ښـارونو او د اسـتوگنې کليوالـو سيمو نيولې ده. د دغه هېواد شپږ سلنه خلک د کرنې په سکټور پـر کار بوخـت دي او د هېـواد دوه سـلنه ناخالـص کـورني توليـدات هـم لـه همدغـه سـکټور څخـه لاس تـه راځـي. وريجـې، غنـم، جـوار، کچالـو، چغنـدر، چـای، ميوې، سابه، غوښـه او شـيدې د دغـه هېـواد مهـم کرنيـز محصـولات بلـل کيـږي.

مهـم کانونـه يـې سره زر، سـپين زر، مـس، تيـل، طبيعـي گاز او د ډبـرو سـکاره دي، چـې تولټـال يـې د صـادرات بيـه ۲۷۵ بليـون ډالـرو او د وارداتـو ټولـه بيـه يـې ۲۵۱ بليـون ډالروتـه رسـېږي.

امريـکا، چيـن، هانـگ کانـگ، سـنگاپور او جاپـان د دغـه هېـواد غټ تجارتي شريکان دي. تايـوان ۱۶۰۰ د اورگاډي پټلۍ، ۱۰۰ غټـې تجارتي بېړۍ او ۴۲ هوايـي ډگرونـه لـري چـې ۳۸ يـې پـه پاخـه او عـصري ډول رغـول شـوي دي.

د دغـه هېـواد د ټيليفـون کـود ۰۰۸۸۶ او د انټرنېـټ کـود يـې TW دی، چـې تولټـال يـې ۱۷ ميليـون کسـان ورتـه لاسرسـی لـري.

د تايـوان لـه ۱۵ کلونـو څخـه پورتـه ټـول خلـک پـر ليـک او لوسـت پوهيـږي. پـه دغـه هېـواد کـې زده کـړه لـه ۷-۱۴ کلنـو ماشـومانو او تنکيـو ځوانانـو لپـاره جبري او وړيـا ده.

تايـوان لـه تاريخـي پلـوه د چيـن لـه اصلي خـاورې سره ډېـرې اړيکـې لـري. لـه نژادي پلـوه د تايـوان ډېـر پخـواني اوسـېدونکي چـې پـه سـمندري ځنـډو کـې اوسـېدل او پـر خپلـه خـاوره يـې واکمنـي درلـوده، د چيـن د جنـوبي سـيمو د ميـاو د قبايلـو لـه عقاربـو څخـه دي. د تايـوان ټاپـو تـه د چينايانـو لېـږد پـه اوومـه پېـړۍ کـې پيـل او پـه دوولسـمه پېـړۍ کـې زيـات شـو. دوی تايـوان تـه د کبانـو د روزنـې، د کرنـې د پرمختيـا او د فرهنگـي رغونـې لارې چـارې ولېږدولـې. پـه ديارلسـمه پېـړۍ کـې چينايـي بېړيـو د تايـوان پـه څنـگ کـې د پنگهـو ټاپـو تـه تـگ راتـگ کاوه او چينـي واکمنـو د پنگهـو لپـاره حاکـم وټاکـه، لـږ وروسـته د راکيـز ټاپـو هـم پـه چيـن پـورې وتـړل شـوه.

پـه ۱۵۹۰ ز کال کـې پرتگاليـان د تايـوان خـاورې تـه ورسـېدل او هغـه يـې فارموسـا وبالـه. پـه ۱۵مـه او ۱۶مـه پېـړۍ کـې تايـوان تـه د چينايانـو پـه مهاجـرت لـه بنديزونـو سره سره، ډېـر چينايـان دغـه ټاپـو تـه ولېږدېـدل. پـه دغـو کلونـو کـې هغـو چينايـي او جاپـاني سـمندري غلـو چـې د چيـن پـه سـيند کـې د بېړيـو پـه لوټمار لگيـا وو، د تايـوان لـه ټاپـو څخـه د يـوې اډې پـه توگـه کار اخيسـت. پـه ۱۶۲۴ ز کال کـې هالنډيانـو پـر تايـوان يرغـل وکـړ او هلتـه يـې د سـوداگرۍ د يـو مرکـز تـر څنـگ، څـو پوځـي اډې جـوړې کـړې. لـه هالنډيانـو څـو کالـه وروسـته د تايـوان د ټاپو پـه شـمالي څنـډو کـې اسـپانويانو هـم اډې جـوړې کـړې. پـه هغـه جگـړه کـې چـې پـه ۱۹۴۱ ز کال کـې د هالنډيانـو او اسـپانويانو تـر منـځ پېښـه شـوه، اسـپانويانو پـه کـې ماتـې وخـوړه او هالنډيانـو ټـول ټاپـو لانـدې کـړ. پـه ۱۶۶۲ ز کال کـې د چيـن د مينـگ د لـړۍ واکمـن چـې د منچـود د کورنيـو پوځونـو پـر وړانـدې يـې ماتـې خوړلـې وه، تايـوان تـه وتښـتېدل او هالنډيـان يـې لـه دې ټاپـو څخـه وشـړل. پـه ۱۶۶۳ ز کال کـې د منچـو لښـکرې تايـوان تـه ورسـېدې او دغـه ټاپـو يـې ټـول ونيـو. چينايانـو پـه ۱۸۸۶ ز کال کـې تايـوان او د هغـه شـاوخوا ټاپـوگان خپـل يـو ولايـت وبالـه.

د افغانسـتان د بهرنيـو چـارو وزارت د سـتراتيژيکو اړيکـو پـه کتـاب کـې د تايـوان نـوم نشـته، نـو داسـې ښـکاري چـې دا دواړه هېوادونـه خپلـو کـې کومـې رسـمي اړيکـې نـه لـري.

لـه افغانسـتان څخـه تـر تايـوان پـورې د هـوا لـه لارې فاصلـه ۵۲۶۲ کيلومـتره او همـدا راز د کابـل او تايپـي ښـارونو تـر مينـځ د وخـت توپيـر ۳:۳۰ سـاعته دی.

همیانی

# له خپلو وړتیاوو ګټه واخلئ او را ویې سپړئ!

حمیدالله حمیدي

د زرو قدر له زرګر سره وي. د یوه بوډا په اړه مې کیسه اورېدلې ده چې مجسمې به یې جوړولې. نوموړي د ارام سمندر جنوب لوري په یوه واړه کلي کې ژوند کاوه او یوه کوچنۍ جونګړه یې لرله. بوډا ډېر پوه او د لوړ استعداد څښتن و. ټول عمر یې په لرګیو کې د حکاکۍ مسلک ته وقف کړی و. یوه ورځ یې په خپله سیمه کې قدم واهه. د جزیرې د تر ټولو شتمن کس د کور په مخه کې یې څو پرې شوې ډېلې ونې (د لرګي کوندې) ولیدې چې پرتې دي. د کور له څښتن څخه یې پوښتنه وکړه، په دې لرګیو څه کوې؟

د کور څښتن ورته وویل:

داسې بېکاره لرګي دي غواړم ایسته یې واچوم.

مجسمه جوړوونکي ورته وویل، کولای شم له دې څخه یوه زه یوسم؟

د کور څښتن په حیرانۍ ورته وکتل، ویې ویل:

وایې خله، خو دا زړې ونې به څه کړې؟

مجسمه جوړوونکي د ونې یوه لویه ټنه په خپله ګاډۍ کې کېښوده او خپل کور ته یې یوړه، په ولاړو یې ودروله. شاوخوا ترې وګرځېد، فکر یې وکړ، څه شی پکې ښکلې راځي او په سپینولو یې پیل وکړ. څو ورځې پر له پسې یې په ډېر دقت وتراشله. دوه اونۍ وروسته یې له خپل فکر څخه په ګټې اخیستنې ترې تر ټولو ښکلې باز وتراشه. ډېر ښایسته و. خلاص وزرونه، تا به ویل چې همدا اوس د الوت په حالت کې دی. باز یې د خپل کور په مخکې ټینګ کړ. څو ورځې وروسته د کلي هماغه شتمن د مجسمه جوړوونکي د کور له مخې تېرېده. په باز یې سترګې ولګېدې. ډېر یې خوښ شو. ورنږدې شو، د ښکلا او ظرافت ستاینه یې وکړه. مجسمه جوړوونکي ته یې وویل، دا دې د نړۍ په کوم ګوټ کې اخیستی دی؟

زه غواړم در څخه ویې پېرم.

مجسمه جوړوونکي ورته وویل، نه صیبه، دا د خرڅولو لپاره نه دی.

شتمن ټینګار کاوه چې بیه یې ورته ووایي، هر څومره چې وي اخلي یې. له لږ ځنډ وروسته مجسمه جوړوونکي ورته وویل، ۵۰۰ ډالر څنګه دي؟ دا نو د هغه وخت ډېرې پیسې وې. شتمن یادې پیسې ورکړې، خو کله چې روانېدو، مجسمه جوړوونکي ورته وویل، نه پوهېږم که په اصلي کیسه پوه شې بیا به هم دا سودا وکړې؟

تاسې همدا اوس د لرګي هغه بېکاره کونده په ډېره مینه په لاس کې اخیستې چې څو اونۍ مخکې دې ماته وړیا راکړه.

بله ورځ بیا مجسمه جوړوونکی د شتمن د کور مخې ته تېرېدو. ګوري چې پر پاټې لرګینو کوندو یې لیکلي، دا یوازې بېکاره لرګي نه؛ بلکې د هرې کوندې بیه ۵۰۰ ډالره ده. تاسې پوهېږئ چې شتمن له دې کیسې درس اخیستی و.

له دې کیسې مې موخه دا وه چې مجسمه جوړوونکي د لرګیو په هغو کوندو کې یو څه لیدلي وو، چې نورو کسانو نه شوای لیدلی. شتمن ورته یوازې د بېکاره لرګیو په توګه کتل، خو مجسمه جوړوونکي یې باطن لیدو. هغه پوهېدو چې د ونې له دې تنو څخه کوم کوم شی جوړېدلی شي. خدای پاک (ج) هم زموږ وړتیاوې همداسېویني. خدای پاک (ج) زموږ په وجود کې هغه شیان ویني چې نور خلک یې نه شي لیدلی. کله کله خلک هڅه کوي چې ښکته مو را کش کړي او بې ارزښته مو معرفي کړي. ډېر کله زموږ خپل فکرونه هڅه کوي را باندې ومني چې تاسې د کوم خاص کار د تر سره کولو وړتیا نه لرئ. خو خدای پاک (ج) زموږ ظاهر او باطن دواړه ویني. خدای پاک (ج) ستاسې ګناهونه ښښي او له تېروتنو مو تېرېږي. خدای پاک (ج) ستاسې ارزښت ویني. کېدای شي داسې فکر وکړئ:

زه یو منظم کس نه یم، کېدای شي کار رانه خراب شي، کېدای شي ماتې وخورم، زه د هېڅ کار د تر سره کولو وړتیا نه لرم، خو له نېکه مرغه باید ووایم چې خدای پاک (ج) اوس هم ستاسې د ننه یو ښکلی باز ویني. کېدای شي خلک مو پر ځمکه را وغورځوي، خو خدای پاک (ج) په تاسې کې هغه وړتیا ویني چې ځان له ځمکې پورته کولای شی. هغه ویني چې تاسې د الوت په حال کې یاست.

اوس تاسې هم باید ونډه واخلئ، څو د منفي فکرونو له شره ځان خلاص کړی. له هغه جال او منفي خبرو ځان خلاص کړئ چې خلک یې ستاسې په اړه کوي. د دې پر ځای مو د ذهن بیارغونه پیل کړئ. پر خپل باطن باور وکړئ چې تاسې خپلواک، با استعداده او ارزښت لرونکي یئ. خدای پاک (ج) هر وخت له تاسې سره مرسته کوي، څو هغه ځای ته چې باید وی، ورسېږی.

ستاسې په وجود کې یوه سلطنتي کورنۍ ده

په لرغونو متنونو کې راځي چې یوه ورځ یوه لښکر پر ښار برید وکړ. ډېری کسان یې له ځان سره یوړل او پادشاه یې وواژه. دا لومړی ځل و چې د دغه ښار خلک بې رهبره شول. ډېر خواشیني وو، هېڅ نه پوهېدل چې څه وکړي، له ژونده یې تمه شلېدلې وه، فکر یې کاوه چې نړۍ پای ته رسېدلې. پیغمبر پکې را پورته شو او ویې ویل:

ولې ژاړئ، څه خبره ده؟ ایا په تاسې کې دومره څوک نشته چې د پادشاه پر ځای یې وټاکئ؟

له دې څخه ښکاري چې زموږ هر یوه په وجود کې یو پادشاه شته. کېدای شي تېروتنه وکړی، خو بیا مو هم په وجود کې پادشاه شته. کېدای شي ناهیلي شی، خلک مو په اړه ناوړه قضاوت او پرېکړه وکړي او یا دا چې ښه فرصتونه (موکې) له لاسه ورکړی. پرېږدئ چې دغه څو کلمات مو د زړه په تل کې کېني. ستاسې په وجود کې لا هم یو پادشاه شته. ستاسې په زړه کې لا هم یوه ملکه شته. اوږې مو وښوروئ، سر مو لوړ ونیسئ او استوار ګامونه واخلئ. ستاسې په رګونو کې سلطنتي وینه بهېږي. تاسې پر خپل سر د لطف او مهربانۍ تاج لرئ. زه همدا اوس له عادي کسانو سره خبرې نه کوم، بلکې زه د یوې سلطنتي کورنۍ له غړو سره په خبرو بوخت یم. که زموږ په زړونو کې ایمان، هیله او باور وي، هرومرو به د خپل وجود پادشاه، ملکه او په خپل سر د پادشاهۍ تاج وینو. خدای پاک (ج) له تاسې غواړي چې د خپل وجود پادشاه ازاد کړئ.

کېدای شي داسې فکر درته پیدا شي. ګوره! دغه کومې خبرې چې ته کوې، دا اصلاً له ما سره نه ښایي. ځکه چې زه ډېرې تېروتنې لرم، پر ما ډېرې سختۍ تېرې دي او دغه څه چې ته وایې، په ما کې نشته.

خو زه وایم تاسې تر چا کم یاست. کله چې یو څاڅکی مرداري اوبه پر کامل انسان بدلېږي، کله چې یو چینجی پر شاه پرک بدلېږي، کله چې یوه بې ارزښته د لرګي کونده د باز پر ښکلې مجسمې بدلېږي، بیانو د یوه مثبت فکر لرل او د عملي کار لپاره متې بدوهل ولې ناشوني شي؟ که تاسې د زړه له تله یوه شي ته رسېدل وغواړئ، هرومرو ورته رسېدای شی. ځان ته وواياست، زه د خدای پاک (ج) له لوري ټاکل شوی یم او هرومرو به خپلو موخو ته رسېږم. ماته یوه مهمه دنده را سپارل شوې چې باید سرته یې ورسوم.

# مېک: ځینې وکیلان د پروژو تر لاسه کولو لپاره وزیرانو ته لابي‌ګري کوي

له فساد سره د مبارزې د څار او ارزونې ګډې خپلواکې کمېټې یا مېک تر یوه کال ارزونو او څېړنو وروسته، د افغانستان په ملي شورا کې د فساد له بېلابېلو اړخونو پرده پورته کړې ده.

د دغې کمېټې د تازه راپور پر بنسټ چې د ولسي جرګې له ۴۲ غړو، مدني ټولنې او دولتي چارواکو سره پکې خبرې شوې، ښيي چې ملي شورا په دې وروستیو کلونو کې د فساد له امله زیانونه لیدلي دي.

که څه هم په راپور کې په مستقیمه توګه د بډو غوښتنو ته اشاره نه ده شوې، خو پکې راغلي چې د حکومت پر کارونو د ملي شورا د څار بهیر ګټور نه و او ځینې وزیران د یوشمېر وکیلانو د تضادونو قرباني او استیضاح او استجواب ته راکښل کېږي.

د دغې کمېټې په راپور کې چې ۷۲ پاڼې لري، راغلي چې په ځینو مواردو کې د ولسمشر اکثره تقنیني فرمانونه د ملي شورا د جرګو لخوا نه ارزول کېږي.

د ملي شورا د ځینو غړو د شتمنیو نه ثبتېدل بله هغه اندېښنه ده چې په دغه راپور کې ورته اشاره شوې ده.

په راپور کې د معافیت په اړه د ملي شورا د ځینو غړو برداشت ته هم اشاره شوې، په دې مانا چې ځینې استازي جرم کوي، خو نه تعقیبېږي.

له فساد سره د مبارزې د څار او ارزونې د ګډې خپلواکې کمېټې په راپور کې بل مهم مورد دا دی چې ځینې استازي د پروژو د ترړونونو لپاره او دغه راز د استیضاح او وزیرانو ته د باور د رایو ورکولو پر مهال لابي ګري کوي.

د دغې کمېټې اجرایه رییس میوند روحاني ویلي، ممکن د دغو لابي ګریو ترشا د پیسو موضوع پرته وي.

هغه ویلي: «د بېلګې په توګه، یو وکیل د یوې پروژې د ارزونې لپاره ځي، وکیل د پروژې پلان نه لري چې څه وخت پیل او څه وخت پای ته رسېدلې ده، بیا وکیل پڅوره ارزوي او راپور لیکي او قراردادي ته وایي، دا سړک مو باید سږ کال خلاص کړی وای، نو ولې خلاص نه شو؟ قراردادي ورته وایي، په تړون کې نه دي لیکل شوي چې سږ کال دې خلاص شي، دلته نو وکیل منفي راپور لیکي، وینو چې زیان رسېدل شته، ولې یو کس منفي راپور خپور کړي او کوم ټیم چې ارزونې ته ځي، عملي پلان دې ونه لېږي».

له فساد سره د مبارزې د څار او ارزونې ګډې خپلواکې کمېټې د دې لپاره چې ملي شورا د فساد له امله له زیانه ووځي، د ۴۲ سپارښتنو وړاندیز هم کړی دی.

د دغه بنسټ رییس ویلي، ملي شورا او په پارلماني چارو کې د دولت وزارت باید د دوی د سپارښتنو په عملي کولو لاس پورې کړي.

په ورته وخت کې ولسي جرګه له فساد سره د مبارزې د څار او ارزونې د ګډې خپلواکې کمېټې راپور په بشپړه توګه نه ردوي، خو منصفانه یې هم نه ګڼي.

د دغې جرګې دویم منشي عرفان الله عرفان ویلي: «دې ته ضرورت دی چې څېړنې باید معیاري او پر اسنادو ولاړې وي. دغې کمېټې چې دا راپور خپور کړی، موږ یې په ټوله کې نه ردوو، ځکه افغانستان دی او موږ ټولنه پېژنو چې په ځینو برخو کې ستونزې شته، خو که پارلمان ګرم کړو چې ناکاره دی او فساد لوړې سطحې ته رسېدلی، فکر کوم داهم له انصافه لرې ده».

# د ماشومې مهسا قاتلین په ۳۰ ـ ۳۰ کاله تنفیذي بند محکوم شول

د استیناف محکمې د شپږ کلنې «مهسا» اختطاف کوونکي او وژونکي هر یو په ۳۰ـ ۳۰ کاله تنفیذي بند محکوم کړل.

لومړنۍ محکمې هم تر دې مخکې د سجاد اغا او روح الله په نومونو یادو کسانو ته د ۳۰ ـ ۳۰ کاله بند سزا اورولې وه، چې پرون د استیناف محکمې لخوا هم تایید شوه.

پرون د استیناف محکمې قاضي معراج الدین عابدي د یادې پرېکړې د اعلان پر مهال وویل، چې یادو کسانو په ټولو څېړنو کې پر خپل جرم اعتراف کړی دی. نوموړي وویل: «تاسو هر یو سجاد اغا د سید اغا زوی او روح الله د نورالله زوی، د مهسا په نوم د کوچنۍ نجلۍ د قتل او اختطاف په قضیه کې د جزا د کوډ د ۵۴۷مې مادې په اساس او د ۵۹۸ او ۱۱۴ کوډ مذکور په نظر کې نیولو سره، د نظارت څخه بیا د بند تر وخت پورې هر یو تاسو په ۳۰ ـ ۳۰ کاله تنفیذي بند محکوم شوه لاست.»

د مهسا قتل چې پراخ غبرګونونه یې راوپارول، ټولو خلکو یې قاتلینو ته د اعدام غوښتنه کوله؛ خو د استیناف محکمې قاضي معراج الدین عابدي وویل، چې یاد کسان تر شل کلنۍ د کښته عمر له امله په ۳۰ ـ ۳۰ کاله بند محکوم شول.

یاد کسان د تېر ۱۳۹۷ لمریز کال په حوت میاشت کې د کابل ښار په خیرخانه سیمه کې د مهسا د قتل په تور ونیول شول.

د کابل پولیسو په خبره، یادو کسانو لومړۍ د مهسا په نوم نجلۍ د خپل کور له مخ څخه تښتولې وه چې درې ورځې وروسته یې جسد د یادې نجلۍ له کور سره نږدې پیدا شو.

د کابل پولیسو هغه مهال رسنیو ته ویلي وو چې سجاد اغا او روح الله د مهسا له کورنۍ د نوموړې د خوشې کولو په بدل کې د پیسو غوښتنه کړې وه.

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰ |
| € | ۸۹,۷۰ |
| Rp. | ۵۰٤ |
| ₹ | ۱۱۷۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۹۹ |

## پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

## بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily



المبارک د شه سفر لپاره غوره انتخاب دی!



المبارک
توریستي شرکت

flydubai · TURKISH AIRLINES · Emirates · ARIANA

0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55

کابل د میوند جادي وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.



دوشنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ ۳۱مه | د ۲۰۱۹ د جولای ۲۲مه | دریم کال | ۴۰۸مه گڼه

www.Maseerdaily.af  twitter/MaseerDaily  Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۳۶ | ۴۱ | ۴۲ | ۴۴ | ۴۰ |
| ۲۰ | ۲۸ | ۲۶ | ۳۳ | ۲۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۵ | لمر ختل ۰۴:۵۵ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیگر ۰۳:۴۹ | ماښام ۰۷:۰۵ | ماخوستن ۰۸:۴۵

## نړی




## سازمان ملل: روند صلح افغانستان به اندازه‌ی کافی همه شمول نیست



سازمان ملل، روند صلح افغانستان را به اندازه‌ی که باید همه‌شمول باشد، همه‌شمول نمی‌داند و در این باره ابراز نگرانی می کند.

آمنه محمد، معاون سازمان ملل که به افغانستان آمده، گفته است که جامعهٔ جهانی از روندی پشتیبانی خواهد کرد که همه‌شمول باشد و شهروندان افغانستان به‌شمول زنان در محور این روند جا داشته باشند.

به باور معاون سازمان ملل، زنان، قربانیان جنگ‌ها و شهروندان افغانستان در روند کنونی صلح افغانستان نقشی ندارند. وی افزود: «نگرانی دربارهٔ همه‌شمول بودن روند صلح در افغانستان وجود دارد؛ اگر زنان در محور این روند نباشند، به نتیجه دلخواه نمی‌رسیم. دربارهٔ کسانی‌که در نشست‌های صلح به نماینده‌گی از مردم افغانستان شرکت می‌کنند، پرسشی به میان میاید که اینان چه اندازه از مردم افغانستان نماینده‌گی کرده می‌توانند؟ جامعهٔ جهانی از روندی پشتیبانی می‌کند که همه‌شمول باشد».

این مقام سازمان ملل، بر برگزاری انتخابات در زمان مشخص شدهٔ آن نیز تأکید کرده‌است. او گفته‌است که این روند هم باید فراگیر باشد و به دور از تقلب برگزار شود. وی افزود: «انتخابات باید در زمان معین آن برگزار شود؛ این روند باید همه‌شمول باشد، صلح و انتخابات دو موضوع از هم جدا هستند و هردو باید محتاطانه دنبال شوند».

قرار است انتخابات افغانستان به تاریخ ششم ماه میزان برگزار شود و در آن هژده تن به‌شمول رئیس‌جمهور و رئیس‌اجرائیه خودشان را نامزد کرده‌اند. شماری از این نامزدان، پیش از این بارها رئیس‌جمهور و رئیس‌اجرائیه را متهم کرده‌اند که در تلاش مهندسی روند انتخابات استند.

معاون سازمان ملل متحد که با رهبران حکومت نیز دیدارهایی داشته‌است، جنگ افغانستان را پیچیده توصیف کرده‌است و بر کیفیت و دوام در روند صلح افغانستان تأکید کرده‌است.

## برنامه یونیتار به ارتباط «رهبری خانم‌ها برای افغانستان» با انکشاف و ترتیب پلان‌های عملی برای سودمندی محل کار و جامعه توسط جوانان متخصص موفقانه به پایان رسید

From the People of Japan

unitar United Nations Institute for Training and Research



«این برنامه باعث گردید تا اعتماد به خودم منحیث یک زن در جامعه که میتواند عامل تغیر مثبت باشد، بیشتر تقویه گردد».

این موضوع توسط شکیبا ابراهیم خیل یک تن از اشتراک کننده‌های این برنامه ابراز گردید: «با اشتراک در این برنامه فرصت مناسبی برای من مهیا گردید، تا با اشخاص نا آشنا با مباحثه و مشاجره‌های متداوم مسائل چون چگونه میتوان تساوی جنسیتی را در جامعه با حضور فعال خویش پرورش نمائیم، شریک ساخته به دانش خویش بی افزایم». وی همچنان اضافه نمود: «توسط اندوخته‌های خویش میتوان شرایط کنونی کشور را مورد ارزیابی قرار داده و نظریات خویش را طوریکه هیچ شخص و یا گروهی بی بهره نماند جامه عملی پوشانید».

ورکشاپ دوم برنامه رهبری خانم‌ها در شهر ابوظبی از تاریخ ۱۳ الی ۱۸ ماه جون با اشتراک ۱۵ تن از خانم‌های جوان از ادارات مختلف دولتی، سکتور خصوصی و جامعه مدنی برگذار گردید. این برنامه توسط دفتر یونیتار با تمویل مالی دولت و مردم جاپان برگذار گردید. ورکشاپ دوم با پیام تشویقی بانوی اول افغانستان محترمه خانم رولا غنی آغاز گردیده و خطاب به اشتراک کننده‌ها فرمودند: «شما منحیث نسل بعدی این کشور با تحصیل علم و شایستگی می توانید راهی را که خواهران بزرگ شما باز نمودند اند، سراغ گیرید».

ورکشاپ شش روزه بیشتر به ترتیب و انجام پلان‌های عملی از دیدگاه جنسیتی تمرکز داشت. در بخش اول ورکشاپ استاد ماریکو سایتو که رئیس مؤسسه "Gender Action Platform and National Coordinator of We Empower" می‌باشد، مسائل چون تساوی جنسیتی، رهبری خانم‌ها و اداره ابتکارات و پیشقدمی‌ها را از نقطه نظر جنسیتی مورد بحث قرار داد.

وی افزود: «اشتراک کننده‌ها خانم‌ها و رهبران جوان بودند که با احساسات قوی‌شان متعهد به تقویه و انکشاف وضع اجتماعی خانم‌ها در کشور شان می‌باشند». خانم ماریکو سایتو همچنان فرمودند: «از طریق تشریح مسائل جنسیتی و SDG اشتراک کننده‌ها توانستند خود را با مفاهیم تساوی جنسیتی و اهداف و شاخص‌های SDG آشنا ساخته آموختند که چگونه میتوان مسائل جنسیتی و SDG را در زندگی خود مد نظر داشته باشند». همچنان ایشان فرمودند: «تیم یونیتار محیط آموزشی مسئون از نگاه فزیکی و فکری برای اشتراک کننده‌ها فراهم ساختند تا بتوانند تجارب و ارزش‌های شخصی خویش را که باعث تقویه تفکرات و وضع اجتماعی آنان گردد، شریک نمایند».

نیمه دوم ورکشاپ توسط اساتید دفتر یونیتار به پیش برده شد که بیشتر متمرکز به موضوع ترتیب و انجام پلان عملی بود. به تعقیب ورکشاپ اول که در کابل در ماه اپریل برگذار گردیده بود، اشتراک کننده‌ها پیشنهادیه ترتیب پلان عملی که پاسخگوی نیازهای محل کار و جامعه باشد، تهیه نمودند. پیشنهادیه‌ها توسط اشتراک کننده‌ها در روز اول ورکشاپ دوم ارائه گردید و توانستند تمام اندوخته‌های خود را در این پیشنهادیه گنجانیده منحیث مثال عملی از آنها استفاده نمایند. همچنان آنها توانستند تا تغیرات لازم را به پیشنهادیه های خود بعد اخذ معلومات به ارتباط مسائل مختلف مانند تشخیص جوانب ذیدخل، ارزیابی و بررسی پروژه‌ها و غیره آورده بعد از توضیع پلان‌های عملی خویش نظریات مشخص از اساتید یونیتار حاصل نمایند.

یکی از اشتراک کننده‌ها، خانم بهاره حسینی برنامه خویش را تحت نام «کتاب دوستان» ارائه نمود. خانم حسینی بعد از انجام پروسه ارزیابی ضرورت‌ها در اداره خویش چنین نتیجه بدست آورد که بیشتر از ۹۵ فیصد اطفال در یکی از مکاتب ناحیه پنجم شهر کابل علاقمندی خاص به خواندن کتاب‌ها به شکل منظم ندارند. پلان عملی که به این ارتباط پیشنهاد گردید، مشتمل بر جلسات کتاب خوانی و توزیع کتاب به شاگردان بود. هدف عمومی از پیشنهاد این برنامه ارتقای سطح دانش و طرز تفکر شاگردان به منظور بلند بردن سطح کارایی و تقلیل سطح ناکامی در مکتب عنوان گردیده بود.

اشتراک کننده دیگر خانم فخرالنسا احمدی برنامه خویش را ایجاد ورکشاپ‌های آگاهی آزار و اذیت در شهر کابل که بیشتر خانم‌ها را با فرصت‌های آموزشی و کاری آنها تحت تاثیر قرار میدهد، عنوان نمود. پلان عملی خانم فخرالنسا شامل برگزاری کمپاین‌های آگاهی، ورکشاپ‌ها و مجالس سخنرانی و تبلیغ برای حفاظت از خانم‌ها تشکیل میداد.

اشتراک کننده‌ها برنامه آموزشی را یک برنامه عملی مرتبط به مسائل کاری شان تلقی نمودند، زیرا آنها توانستند پروژه‌ها و برنام‌های موفق و عملی را بعد از ختم برنامه ترتیب و پیشنهاد نمایند. به این ارتباط خانم حسنیه محسنی اشتراک کننده دیگر برنامه فرمودند که وی با استفاده از ورکشاپ‌های آموزشی که در کابل و ابوظبی توسط یونیتار برگزار گردید، توانستند که بیاموزند چگونه میتوان یک پلان عملی و قوی برای اداره خویش با در نظرداشت پروسه ارزیابی ضرورت‌ها و تحلیل محیطی و مسائل دیگر چون اهداف متداوم انکشافی ترتیب و انجام دهد.

منحیث یک خانم و رهبر جوان خانم محسنی همچنان یاد آور گردیدند که این برنامه یک چانس و فرصت مناسب برای بلند بردن استعدادهای وی در قسمت رهبری و اداره قرار گرفت.

انجام موفقانه ورکشاپ دوم در ابوظبی، اختتام دور دوم برنامه رهبری خانم‌ها تلقی میگردد. قسمت اعظم از اشتراک کننده‌های برنامه اول بعد از ختم برنامه‌های آموزشی، توانستد پلان‌های عملی پیشنهادی خویش را موفقانه انجام دهند. حالا نوبت اشتراک کننده‌های دور دوم است تا با استعداد و دانش اضافی خویش برای تغیر مثبت در افغانستان جد و جهد نموده، اندوخته‌های خویش را با همکاران و اشخاص دیگر در جامعه به منظور پیشرفت و انکشاف بهتر شریک سازند.